(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان د هستۍ دا برخه تليا تي او فنا نه منونکي ده، دارسطو د فلسفې همدا برخه د مسيحي او وسطايي پيړيو دحکمايانو د منني وړ وګرځېده او په کلي ېې د هغو علمي بحثو نه اداره کول.

سربېره پر پورتنيو نظريو، ارسطو د اروا پوهنې په هکله خاصه نظريه لري او د دې علم لپاره يې ځانګړې خدمت سرته ورساوه، دا هغه مرتع ده چې دحافظې په هکله بحث کوي، د تداعي معاني مسالې راځيږي، اصول او قوانين يې منځ ته راوړي. ځينې پوهان او د دې عصر اروا پوهاندونکي دا تصور کوي چې « د يويد هيوم » انګليسي فيلسوف لومړی شخص وچې د تداعي معاني اصول يې را منځ ته کړل، خو داسې نه ده، لومړني شوونکي او دلرغونو فيلسوفانو د سرسړی دې اصولو ته پاملرنه وکړه.

ارسطو د تداعي معاني اصول د تضاد، شباهت او مجاورت داصل تر عنوان لاندې د زمان او مکان په قيد سره منځته راوړل او هغه يې د پيژندنې تجربي قوانين ونومول، ارسطو وايي چې د تصوراتو د توجيه او د څرګندېدو د طريقې لپاره ځانګړي قوانين وجود لري، د افعال او انفعالات په تصادفي توګه نه پيداکيږي. دا دوه تصورونه يعنې د تداعي د اصلونو توجيه او دا چې قوانين په نفساني چارو حاکم دي. څو پيړۍ وروسته دارسطو څخه هم تر بحث او څيړنې لاندې راغلل او د نوي اروا پېژندنې په وده او پراختيا کې ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library

او محیطي لاملونو اغیز په فردي اروايي ودې، توکم (نژاد)، حیواني ارثي پوهنه، فردي اختلافات او د اروا پوهنې داسې نور مسایل د همغه وخت د اروا پېژندونکو په اغیزو او څېړنو (انتشارات) کې ښکاره شول. د لومړي ځل لپاره د وګړو د اروايي حالاتو د اندازه کولو نوې طریقه د ازمېښتونو په مرسته ابداع شوه او په موجوده تجربي طریقې سره، په اروا پېژندنه کې یو نوی څپرکی د نوې اروا پوهنې تر عنوان لاندې رازیاته شوه.

بله برخه (علم)، چې د دې دورې په اروا پوهنې اغیزه وکړه روحیاتي طبابت (روان پزشکي) وه. په همدې خاطر د روان پزشکي تاریخ باید د فلسفي پېر په اوږدو کې په سمه توګه وڅېړل شي. د خبرې د لنډولي په خاطر دا کافي ده چې ووېل شي په تېرو پختونو کې د رواني ناروغانو علاج د پیره خاشینونکي او خراب وو. خو په دې دوره کې د علمي اصولو په اساس برابر شو. په عامه توګه د دې پېر رواني طبیبان په دوه ډوله ووېشل شول، یې ډلې به روحي ناروغۍ د رواني علتونو معلول او بلې ډلې به روحي ناروغۍ د بدني علتونو معلول شمېرل.

په بله وینا لومړۍ ډلې ته رواني علتونه مهم وو خو دوهمې ډلې به زیار یوست چې د هر غیر طبیعي سلوک یا خوځښت لپاره عصبي یا مغزي اختلال کشف کړي. که څه هم په یو ډول جنون کې، ذهني اختلال کشف شوی و. خو بیا هم نه شو کولای

حرکات لکه د امعا او احشا حرکت، د بیلا بیلو غدو ترشح د بیلا بیلو عضلاتو خفیف او لږ انقباضات، عصبي تحرکات چې په داخل د اعصابو کې جریان لري، کوم لاري شو دا ټول د سلوک تر عنوان لاندې راځي خو دا حرکتونه باندنۍ[1] او ښکاره سلوک نه جوړوي، خو د باطني یا داخلي او پټ[2] سلوک اجزا جوړې دي.

د پټ سلوک د مفهوم په قبلولو سره په واقعیت کې واټسن[3] له خپلې لومړۍ ادعا څخه چې هره مساله په اروا پوهنه کې باید عملاً د کتنې وړ وي، تېر شو او له یو فلسفي له غوښتنې سره مل شو. یانې په اروا پوهنه کې باید هره مساله په «بالقوه» توګه د مشاهدې او کتنې وړ وي. اوس نو ټولې پدیدې چې ارګانیزم په داخل کې پېښیږي په پټ سلوک پورې تړاو لري او په نظري لحاظ په فزیکي وسایلو کیدای شي چې د کتنې او روایت وړ وګرځي.

د واټسن په کار ونډې کې، هغه څېړنې چې هغه د حیواني اروا پوهنې او کوچنیانو په هکله سرته رسولې د پام وړ او بارونبته دي او داسې شو چې واټسن د کوچنیانو په تجربتي اروا پوهنه کې یو بې نظیره او مخکښ پوه و. هماغسې چې وونت ویلي وو چې د شعور یا خود اګاهۍ تجزیې پېچلې مسالې دي، باید هغه په ساده حسونو او احساساتو تجزیه کړو واټسن هم عقیده درلوده چې د سلوک پېچلې او غامضه مساله ده باید په ساده واحدونو د انګیزې او ځواب یا غبرګون تجزیه شي چې دې دواړو

---

(1) Overt behavior (2) Implicit behavior.

